# د ژباړې اهميت او ارزښت

ليکوال
**پوهنمل شربت خان سهاک**
پوهنځی ادبیات و علوم بشری، دیپارتمنت پشتو، پوهنتون بغلان
برېښناليک پته
sahaksahak145@gmail.com
اورکيد پېژندپانه
https://orcid.org/0009-0008-4030-0899

ليکوال
**پوهنمل فدامحمد فدايي**
پوهنځی ادبیات وعلوم بشری ، دیپارتمنت پشتو ،، پوهنتون بغلان
برېښناليک پته
fedam0484@gmail.com
اورکيد پېژندپانه

## لنډيز

ترجمه د عربي ژبې کلمه ده، چې تغېر له يوې ژبې ته د يو مطلب د انتقالولو، د چا سيرت، اخلاقو او نســـب د ذکر کولو په مانا ده او جمعه يې ژباړې راځي. ژباړه په اصـــطلاح کې د مبدا ژبې لغاتو او مفاهيمو ته د مقصـــد په ژبه کې دقيقو او نږدې معادلو لغاتو او مفاهيمو پيدا کول او لټون دی، په دې شـرط، چې د ويونکي اصـلي مطلب ته زيان ونه رسـېږي او د هغه علم په کې سـاتلی وي. ژباړې ژبه له علمي او ادبي پلوه بډايه کوي. بډايه ژبه هغه ده، چې د هرې علمي او ادبي موضـــوع آثار په کې موجود وي او دا کارله ژباړو پرته ناشـــونی دی، ځکه ژباړه د علمي، فکري، ادبي او ټولنيزو تړاونو تر ټولو ښـه وسـيله ده. د همدې ژباړې په مرسـته د نړۍ بېلابېلې ژبې د يو بل هنري ارزښـــتونو اســـتفاده کوي او يا د يوبل هنري ضـــرورتونه د توان تر حده پوره کوي.ژباړه هغه هنر يا وړتياده، چې مانا منځپانګه يعنی ضروري پيغامونه، معلومات او پوهه پرې له يوې ژبې نه بلې ژبې ته اړوي. لنډه دا چې علمي او ادبي ژباړه د يوې ټولنې اړتياده او له اړتيا ســـترګې پټول د پاتې ملتونو نښه ده. نن ورځ پښتو ژبه دې ته اړه ده، چې نوې فکرونه او تجربې له نورو ژبو او فرهنګونو څخه په پور واخلي. دا څېړنه د مقالې اصـــولوته په پام ســـره پايله، مناقشـــه، کليدي پوښـــتنې او اخځليکونه لري، هڅه شـوې چې د ژباړې پر ارزښـت او اهميت باندې ځان پوه کړو. کار د ژباړو پرته ناشونې دی، ځکه ژباړه د علمي، فکري، ادبي او ټولنيزو تړاو تر ټولو ښه وسيله ده.

**کليدي اصطلاحات:** ژباړه، ژباړونکې، متن ، ظرا فت او ښکلاوې .

# The Importance and Value of Translation

Author **Sharbat Khan Sahak**
Faculty of Literature and Humanities, Department of Pashto, Baghlan University
Email sahaksahak145@gmail.com
Orcid https://orcid.org/0009-0008-4030-0899

Author **Fida Muhammad Fidai**
Email Faculty of Literature and Humanities, Department of Pashto, Baghlan University
Orcid fedam0484@gmail.com

## Abstract

The term *"translation"* originates from the Arabic language, referring to the transfer of meaning from one language to another, and also implies narrating someone's biography, ethics, or lineage. The plural form in Pashto is *"ژباړې"* (translations). Technically, translation refers to the process of finding precise and closest possible equivalents for the words and concepts of a source language in the target language, without altering the original intent of the author and preserving the knowledge it conveys. Translation plays a critical role in enriching a language both scientifically and literarily. A rich language is one in which the intellectual and literary contributions of all fields are accessible—something that is largely unattainable without translation. It is, in fact, the most effective medium for transferring scientific, intellectual, literary, and social content across linguistic boundaries. Through translation, various languages of the world benefit from each other's artistic values and fulfill each other's literary needs as much as possible. Translation is an art and a skill that enables the transmission of meaning, messages, information, and knowledge from one language to another. In short, academic and literary translation is a vital necessity for any society, and to overlook this need is a sign of backwardness. Today, the Pashto language requires the adoption of new ideas and experiences from other languages and cultures through translation.

This study, while adhering to the principles of academic writing, includes key questions, discussion, conclusions, and references. It aims to clarify the significance and value of translation. Without translation, progress in intellectual, scientific, and literary domains is virtually impossible, as translation remains the most effective means of communication across cultures.

**Keywords:** Translation, Translator, Text, Subtlety, Aesthetics

مجلهٔ علمی-تحقیقی پامیر / - دپامیر علمي څېړنیزه مجله - Pamir Academic & Research Journal

## سریزه

په حقیقت کې ژباړه هغه هنر دی، چې د بېلابېلو مدنیتونو ترمنځ د تجربو، افکارو او پوهنو راکړه ورکړو ته لاره هواره وي. دا به تېروتنه وي که ووایو، چې ژباړه د یوې ژبې د ادب پراختیا، پرمختیا او نوښــت تر ټولو لوی لامل دی. یا ژباړه د یوې ژبې ته د نویو افکارو او تخیلاتو د راننوتو ســبب کیدای شي.

ژباړه د یوې ژبې د پراختیا او پرمختګ یو ستر لامل کېدلی شي، ځکه چې موږ د ژباړې له لارې د نورو ژبو له علمي ، ادبي ، اقتصـادي او فرهنګي اثارو سـره بلدېږو او د هغو له مثبتو تجربو څخه خبرېږو او ګټه ترې اخلو، نو په پښتو ژبه کې ژباړه یوه اړتیا ده او په ژباړه کې له ټولو نه لومړی د ژباړې په اصولو ، قواعدو او نورو تیوریکي مسایلو باندې باید پوه شو.

د دې لپاره تر ټولو ښه لاره ژباړه ده، که دا ژباړه منظومه وي یا نثري، فرهنګي وي که یا ساینسي د ژبنیز پرمختګ لامل کیدای شـــي او له بله پلوه ژباړه د فرهنګونو تر منځ د تفاهم یواځینۍ وســیله ده.

هره ژباړه، ژباړل شـوې ژبې او کورنۍ ادب ته یو نوی فکر ورکوي. له بهر سـره د سیمه ییز ادب اړیکه پراخېږي او د ژبې لمن له نوي او په زړه پورې مضامینو سره نوره پراخېږي.

ارستو وایي: انسـان مقلد دی، ماشوم له خپل شـاوخوا ژبه، ناسته ولاړه، تهذیب او ژوند زده کوي. دغســـې ټولنې له یو بله زده کړه کوي او د دې علمي او فرهنګې زده کړه لپاره ژباړه ښــــه او معقوله لاره ده.

ژباړه ټولنې سره نېږدې کوي، د ټاکل شـوي سرحد( پولې )تر منځ یې پوهاوی رامنځته کوي او په دې توګه علمي، فرهنګي او ادبي راکړې ورکړې ته لار پرانیزي د دې یادونه خو مې په وار وار وکړه، چې د ژبې پراختیا په ډګر کې ژباړه که شعري وي یا نثري لوی لاس لري.

زما د مقالې موضـوع د ژباړې اهمیت او ارزښـت دی ځکه چې د ژباړې ډېرو ګټو زه هم دې ته و هڅولم تر څو د خپلې علمي مقالې لپاره همدا خوندوره موضـــوع وټاکم او خپلې څېړنې ته په کې ادامه ورکړم.

د ځینو ادب پوهانو په عقیده ژباړه نه تر تصـنیف او پخپله ژبه کې تر لیکنې سـتونزمنه او مشـکله ده. دا ځکه چې لیکوال، په خپله ژبه کې لیکنه کوي، په خپله لیکنه کې بشپړ اختیار لري، خو په ژباړه کې پر ژباړونکي لازمه ده، چې هم پر هغه ژبه چې ژباړه یا ترجمه ورڅخه کوي ښــــه و پوهیږي، ترڅو د لیکوال مفاهیم او مطالب په مناسبه توګه خپلې ژبې ته را ولېږد ولای شي، نو اوس مهال ژباړه د مدنیتونو تر منځ د پوهاوي او د تجربو لېږد را لېږد وسیله ده، چې د نړیوال توب د پیر په نامه یادېږي ژباړې ته د نړیوال کلي په سترګه کتل کېږي.

زما په اند که موږ ژباړې ته مخه نه کړو او پښــتو ژبه په همدې اوســنیو ګامونو کې خپل یون ته پرېږدو، زه وېریږم چې یوه ورځ به پښتو ژبه یوازې د شعر او شاعرۍ ژبه وي او بس. نو موږ باید له یو دقیقې ستراتیژۍ او لومړیتوبونو په پام کې نیولوسره د ژباړې یو پراخ غورځنګ پیل کړو.

## د مسالې بیان

په پښــتو ادب کې یوازې تخلیق او تحقیق نه دي، چې پښــتو ادب ته یې ډېرې پنځونې کړې دي، بلکې نرۍ دومره نږدې شــوې ده هغه ژباړه ده موږ کولای شــو د ژباړې په واســطه د نورو ژبو نه ژباړې وکړو، په دې مقاله کې زیار ایســتل شــوی دی ترڅو د ژباړې په اهمیت او ارزښــت باندې بحث وشي د ژباړې په واسطه باید موږ د نړۍ له ادب سره آشنا شو، دا مقاله په دې پوښتنو سره د ژباړې په اهمیت ارزښــت باندې پوه شــو: د ژباړې پر اصــولو پوهیدل؟ امانت داري ته پام کول؟ پر دواړو ژبو باندې پوهېدل؟ د اصلي متن مفهوم رسولی شي.

## د څېړنې پوښتنې

اصلي پوښتنې: ژباړه څه اهمیت او ارزښت لري؟

فرعي پوښتنې :

۱- ژباړن باید په کومو ژبو برلاسی ولري ؟

۲- ژباړه ژبې ته کومې ګټې رسولی شي ؟

## د څېړنې ارزښت

د دې څېړنې ارزښت په دې کې دی، چې د ژباړې په ارزښت او اهمیت باندې پوه شو، نو له بلې خوا په کې هڅه شــوې ده، چې د لیکوال او ژباړونکي وهڅول شــي ترڅو خپلې مورنۍ ژبې ته له نورو ژبو څخه ژباړې وکړي، که هغه منظومې وي او که منثورې ترڅو دا لړۍ چټکه کړي او د خپلې مورنۍ ژبې علمي پانګه په شــان ادبي ژباړو بډایه کړو.د دې علمي مقالې په لیکلو ســره به د ژباړې ارزښــت او اهمیت په اړه یوه علمي لیکنه خپره شــي او زما لپاره دا لاســته راوړنه ده، چې د پښتوژبې مینوال ترې ګټه پورته کړي.

## د څېړنې موخې

د دې څېړنې اصلي موخه داده ، چې لوستونکي د ژباړې سره اشنا شي او د ژباړې اهمیت وپېژني نو په دې ســره به لوســتونکي او لیکوالان وهڅېږي چې پښــتو ژبې ته له نورو ژبو څخه په بېلابېلو برخو کې ژباړې وکړي او له دې لارې به خپله ژبه او ادب لا بډای کړي .

د دې څېړنې څخه بله موخه داوه، چې پر ژباړه څېړنه وشــي نو له بلې خوا په کې هڅه شــوې چې لیکوال او ژباړونکي وهڅول شــي، تر څو خپلې مورنۍ ژبې ته له نورو ژبو څخه ژباړې لړۍ چټکه کړي او د خپلې مورنۍ ژبې علمي پانګه په شان ادبي ژباړو بډایه کړي.

Pamir Academic & Research Journal - د پامیر علمي څېړنیزه مجله - مجلهٔ علمی-تحقیقی پامیر/

## د څېړنې شالید

د مخه تر دې، چې د دې موضوع په اړه د ترسره شوي کار جاج واخلو او د هغه د پېژندنې په لړ کې یې ارزونه وکړو. د دې خبرې یادونه او ورته پاملرنه اړینه ده، چې زما د معلوماتو له مخې تر اوسه په پښتو ژبه او ادب کې په دې موضوع داسې کومه بشپړه او اکاډمیکه څېړنه نه ده شوې، چې د ژباړې په اهمیت او ارزښت باندې دې چا کومه لیکنه کړې وي.

زه به دلته په لنډه توګه له هغو څخه د ځینو یادونه وکړم او بیا به یې پر هغو د خپلې دې څېړنې پوره توب او کره توب زیات او جوت کړم.

- د کابل پوهنتون استاد اجمل ښکلي د (د ژباړې اصول )، د ژباړې پېژندنه ، اصول ، قواعد او پښتو ژبه کې شوې سمې او ناسمې ژباړو په اړه لنډه بحثونه لري، خو زما اړوندې موضوع په باب په کې څه نه شته.

- پوهنمل عبدالقدیر خموش د ژباړې شالید او فن په نوم اثر لیکلی دا هم د ژباړې پېژندنې، ډولونو، په نړۍ او پښتو ژبه کې په تاریخي بهیر رڼا اچوي، خو زما تر بحث لاندې موضوع په اړه مطلوب معلومات نه لري.

- پو هنمل اسدالله وحیدي پر پښتو نثر د ژباړې اغیز چې د ژباړې اغیز، پر پښتو نثر د ژباړې د اغیز لاملونه، پر ژبه تکیه کول، د ژباړې په اصول یې نه پوهیدل او داسې نور موضوعاتو باندې بحثونه لري، خو زما د دې اړوندې موضوع په کې څه نه لیدل کېږي.

سربېره پر دې ځینو چا یې خپرونو، مجلو، اخبارونو او د مقالو په ټولګو کې د ژباړې عامې پېژندنې او په پښتو ژبه اړوندې په ژبوکې د هغې په تاریخي بهیر ځینې مفصلې او یا لنډې لیکنې او څېړنې خپرې شوي، چې دا ټولې زما له موضوع سره ډېر لږ اړخ لګوي. علمي او لیکلی اثار د یولوی بحر په شان دي، چې هر څومره پلټنه په کې وشي بیا هم ټولې خواوې نه شي رانغاړل کېدای.

## د څېړنې میتود

هره څېړنه او لیکنه بېل روش او میتود لري، چې د همدې لارې په ټاکلو سره یو لیکوال او څېړونکی خپله ټاکل شوې موضوع او مضمون تکمیل کولای شي. ما چې کله د مقالې موضوع ( د ژباړې اهمیت او ارزښت ) وټاکله نو په پیل کې مې د خپلې څېړنې لپاره یو څه ضروري مواد او اثار چې په اختیار کې درلودل راغونډ کړل او بیا مې د څېړنې میتود غوره کړ چې هغه میتود تحلیلي او تشریحي دی.

همدارنګه د خپلې ټاکل شوې موضوع د څېړنې لپاره مې د دوستانو په مرسته دپوهنتون له کتابتون، شخصي کتابتونه او د افغانستان علومو اکاډمۍ غني کتابتون او ملي ارشیف نه ګڼ مواد راټول

کړل، چې زما د موضـوع په څېړلو کې ګټور ثابت شـول او وروسـته مې په علمي توګه ليکنه پيل کړه، چې زما د څېړنې ميتود تشريحي دی او د څېړنې ډول مې کتابتوني دی.

## پايلې او موندنې

**د ژباړې پېژندنه :**ژباړه په لغت کې اړولوته وايې ، يعنی ، له يوې ژبې نه بلې ژبې ته د ويناوو او مفاهيمو اړولوته ژباړه وايې

اوپه اصطلاح کې د مبداء د ژبې لغاتو او مفاهيموته د مقصد په ژبه کې د دقيقو او نژدې معادلو لغاتو او مفاهيموپيداکول او لټون دي ؛ په دې شرط ، چې د ويونکي اصلي مطلب ته زيان ونه رسيږي او د هغه علم په کې حفظ وي .

**د ژباړې ډولونه**

په عمومي لحاظ د ژباړې وېش

**الف: مفهوم محوره ژباړه :**دا ډول ژباړه د مبداء ژبې کورني يا بنستي جوړښت ته په پام سره ترسره کيږي ، چې مهم او د پام وړ عوامل يې هم څرګند وي ، لکه د ژباړې پرمهال حاکم ادبيات ، حاکم فرهنګي وضعيت ، د ټولنې دليک لوست او عامه تفکرعمومي کچه او د ليکوال اصلي موخه .

**ب: لغت محوره ژباړه :**په دې ژباړه کې ترډيره پورې د مبداء ژبې بهرني جوړښت يا يې ظاهري بڼې ته پاملرنه کېږي ، پروسه يې ډېره چټکه اوبېړنی وي ، خو خپل سخت والی او قالبي بدښت هم لري ، ژباړن هغه لاملونه په نظرکې نه نيسي ، چې په مفهوم محوره ژباړه کې يې يادونه وشوه .

**له تخنيکي اړخه د ژباړې وېش :**ژباړه له تخنيکي اړخه په دوو ډولونووېشل شوې ده ، چې ماشيني ژباړه او انساني ژباړه .

**۱- ماشيني ژباړه :**هغه ژباړه ده ، چې د ماشين په وسيله ترسره کېږي ، خو بشپړه نه وي اوتل دې ته اړتيا لري ، چې د انساني ذهن له لوري يې سمون اوبيا مسلکي کتنه ترسره شي .

**۲- انساني ژباړه :**انساني ژباړه په حقيقت کې زموږ د ژباړې تر ټولو منل شوې ژباړه ده ، ځکه چې په دې ژباړه کې ترډېره د ژباړن ذهن او ګوتې سره ملګري وي او مخکې له دې ، چې ژباړنيز توليد يې د کتاب او ثبت قيد ته لاړشي .

**د ژباړې په آړه د پوهانو نظرونه :( نايدا)** په مقصد ژبه کې د مفهوم او سبک له پلوه تر ټولو نژدې انډول پيداکولوته ژباړه وايې .

**(کولي)** ټکي په ټکي ژباړه په دې ماناده ، چې يوليونی د بل ليوني خبرې اخلي .

**یو ایټالوي متل دی** : ژباړه د هغې ښځې په شان ده ، چې ښکلې وي ، وفاداره نه وي او که وفاداره وي ، نو ښکلې نه وي .

**عبدالشکوررشاد وایې** : ژباړه د ملتونو ترمنځ د ثقافتونو دلیږد وسیله ده .

## د ژباړې اصول :

غواړم ، چې موضوع رانه ډیره اوږده نشي یوازې یې په نومونو راوړلو باندې بسنه کوم .

۱- د ګټورې موضوع غوراوی

۲- پرموخنه ژبه برلاسی

۳- پرلومړنۍ ژبه برلاسی

۴- د امانت ساتنه

۵- هنري ذوق

۶- ګړنې په ګړنو او متلونه په متلونو ژباړل

**د ژباړې ګټې** :د ژباړې ګټه داده ، چې نړۍ پیژنو، ورسره تړاو پیداکوو او ځان د نړۍ یوه برخه ګڼو، ژباړه د ټولو ملتونو ترمنځ د تړښت وسیله ګرځي، ګټوره موضوع وټاکل شي او هم ښه وژباړل شي .

**د ژباړې زیانونه** :کله چې موږ پردی فکر له پردۍ ژبې څخه را اخلو ، زیان یې حتمي دی ، ځکه چې د ژباړې پرمهال پر ژبه د بلې ژبې اغیز پریوځي، د ژباړې له لارې ټولنې ته ناسم افکار او پردي فرهنګونه راځي ، که په ژباړه کې سمه موضوع غوره نه شي نو زموږ فرهنګ ته زیان رسوي ژباړه د لیکوال او یا د ټولنې فکري ودې مخه نیسي کله چې پر ژباړه ډیره تکیه کیږي لیکوال خپل فکرله لاسه ورکوي او د نورو فکر را ژباړي .

د تاریخ په اوږدو کې جهان او ولسـونو بېلابېل مدنیتونه درلودل. ځینې قومونو پرمختګ کړی خو ځینې نور وروسته پاتې او د یادونې وړ پرمختګ یې نه دی کړی، د پرمختللو هېوادونو پرمختګ له دې څخه معلومېږي، چې دوی د علم او فن په لاســـته راوســـتلو کې تر کومه وړاندې تللي، د اجتماعي پوهې، فرهنګ، د علمی څېړنو او فني اختراعاګانو څومره د یو چا بریالیتوبونه په نصیب شوي دي.

وروسته پاتې هېوادونه چې غواړي خپل حالت سم او د ځان دریځ لوړ کړي او د نورو سره سیالي وکړي نو باید د همدغې ترقي او پرمخ تللو ولسونو څخه څه زده کړي.(وحیدي: ۱۳۹۶ل- ۱۹مخ) هغوی خپل مشق وګرځوي او د هنر د لاسته را وستلو کې یې پیروي و کړي، څرنګه چې غواړو د نورو ولســـونو څخه علم او پوهه تر لاســـه کړو نو تر هر څه د مخه لازمه ده چې ژبه زده کړو،

ځکه چې د علم او ژبې تر منځ د کولپ ( قفل) او کیلي نسبت موجود دی. یعنې ناپوهي کیلی کولپ نه خلاصیږي(ښکلی : ۱۳۹۶ل- ۱۸مخ)
نن هغه وخت نه دی، چې زموږ نیکونو او غورنیکونو په کې استوګنه لرله. نن د کمپیوټر او انټرنیټ دور دی، د عصري او موډرنې تکنالوژۍ عصر دی نو ځکه په کار ده، چې د نړۍ له اوچت او چټک یون سره ځان غاړه غړۍ کړو، چې له دې یون نه پاتې نه شوو.
ننۍ نړۍ پرته له دې چې پرمختللې نړۍ ده، له دې ټولې لویې او وسعت سره سره د یوه واړه استوګنځي حیثیت لري. نن که د نړۍ په ختیځ یا لویدیځ کې کومه څېړنه، اختراع او یا کشف کېږي نو دم ګړۍ یې ټوله سیمه اوري او پرې خبرېږي؛ دا چې څنګه دومره په سرعت خپرېږي او تر هر چا رسېږي همدا پوښتنه زموږ د لیکنې اصلي برخه ده، چې پوهیدل یې پرته له ځنډه شونې بریښي دا ځکه چې نن هغه عصري تکنالوژي زموږ ملګریتوب کوي خو شرط یې دا دی، چې موږ له خپلې ژبې څخه پرته په بله کومه بین المللي ژبه هم پوره واوسو او وکولای شو د هغې مبدا ژبې نه مفاهیم را واخلو او په خپله ژبه یې واړوو او د هیواد د ټول ولس تر غوږه یې ورسوو.
که په نړۍ کې داسې ځوک نه وي، چې همدا د را اړولو فن یا مهارت یې زده وي نو ناشونې بریښي چې همدا موډرنه تکنالوژي هم زموږ په درد وخوري. له همدې ځایه دی، چې موږ په ژباړه او د ژباړې په اهمیت اوضرورت ښه پو هیدلای شو. هغه هېوادونه چې په ذهني او فکري لحاظ وروسته پاتې دي او غواړي چې په عقیدوي، فکري او علمي لحاظ د هغو هېوادونو پیروي وکړي چې په دغو ساحو کې پرمختللي دي؛ نو ورته لازمه ده چې لومړی د هغو په ژبه ځان پوه کړي او بیا په دې توګه د هغوی عقاید، افکار، خیالات، د علومو او فنونو په بیلابیلو برخو کې تجربې، نظریات او اختراع ګانې د خپلو خلکو لپاره پخپله ژبه راواړوي او ولس پرې پوه کړي.
د ژباړې د اهمیت په هکله یوځل بیا په دې ټینګار په کار دی، که ژباړه او ژباړن نه وای د نورو قومونو او ملتونو له حالاتو څخه د خبریدو امکانات به نه وو ځکه پرته له دې، چې ژباړې ته مخه کړو بله لار نه لرو نو ویلای شو، چې په یوه ټولنه کې د تجربه لرونکي ژباړونکي موجودیت، چې د مبدا او مقصد په دواړو ژبو برلاسی وي اړین بریښي.(خموش :۱۳۹۵ل- ۴۰مخ)
ژباړه د تاریخ په بهیر کې د پاملرنې وړ ګرځېدلې او د ارتباطي وسایلو د سرلیک په توګه د وګړو د پاملرنې وړګرځیدلې ده. نن ورځ د ژباړې له ارزښت څخه سترګې نه شو پټولای، د ژباړې د ارزښت په اړه یوازې دومره وایو که چېرې ژباړه نه وای؛ نو له نورو ملتونو څخه به موهیڅ ډول معلومات او پوهه نه درلودله؛ ځکه، چې انسانان د یو او بل علم او فن ته اړتیا لري او له بلې خوا د ډېرو ژبو د شتون له کبله نه شي کیدای، چې نیغ په نېغه له هغه څخه ګټه واخیستل شي، له دغه ځایه ده، چې پرته له ژباړې بله لار نشته، دا چې ولې ژباړه د دومره اهمیت وړ ده؟

Pamir Academic & Research Journal - مجلهٔ علمی-تحقیقی پامیر / - دپامیر علمي څېړنیزه مجله

ځکه چې له علومو او فنونو ســره د بشــري ټولنو مینه د تجربو د زده کړې لپوالتیا انســانان دې ته اړکړي دي، چې څېړنه وکړي، لکه څنګه چې ژباړه یوه علمي، سیاسي، دیني او کلتوري اړتیاده؛ نو په کارده، چې مورږ هم د دې اړتیا په پام کې نیولو سره متې را بډوهو.

نن ورځ ژباړې څخه د دیني علمونو، فنونو، روانو چارو او په بیلابېلو ډګرونو کې ګټه اخیســـتل کېږي. د ورځینو خبرونو، ریپوټونو او د هېوادونوسفیرانو، مشرانو د یو او بل د خبرو په پوهېدنې د ژباړې د یوې پرمختللې ژبې لـه ډېرو غوره ټکوڅخه یوهم د هغې ژبې په لمن کې د ډېرو او هر اړخیزو اثارو شته والی دی، چې بیلابېلو برخو( سیاسي، حقوقي، علمي، ادبي، فرهنګي او نورو ) کې ژباړل شوي اثار ولري. په دې ډول به هم له یوې خوا د ژوند د بېلابېلو برخو او نړیوالو مسلو په اړه معلومات ولري او هم بـه د همـدغې ژبې د علمـاوو پوهې خاونـدانو تـه د ډېرو مـاخذونو در لودونکې وي. په اوسـنی نړۍ د اداري له پلوه بېلابېلو سـیسـتمونه شـته دې، چې په ټولنیز ډول د نړۍ هیوادونه په درېوو برخو ووېشي:

۱- پرمختللي هېوادونه

۲- پرمختیایي هېوادونه

۳- وروسته پاتې هېوادونه

درېیم ډول هېوادونه باید د پرمختللیو هېوادونو د تجربو څخه په ګټه د خپلو هېوادونو په پرمخ بېلو کې هڅه او هاند وکړي. پر یوه بهرنی پرمختللې ژبه په لاسبري سره کولای شو چې د هغې ژبې له علومو او راز راز مسایلو څخه په ګټه خپلې ژبې ته بېلا بېل معلومات را واړوو.

هرکله چې بشري ټولنې پرمخ ځي د ژباړې او ژباړن ارزښت هم لوړېږي نو په دې توګه له بیلابېلو ژبګړیدونکو ټولنوسره د یو ژباړن شتون اړین برېښي.

لکه څنګه چې اوسنی نړۍ د تکنالوژي د پرمختګ او د اړیکو د ډېرښت له کبله چټک یون کوي او نړۍ د یو کلي په څېر ده، چې باید په دې کلي کې د یو بل له اصول خبر اوسو او د یو او بل په غوښـتنو ځان پوه کړو، خپلو سـتونزوته د حل لار پیداکړو او له ټولو علمي، تخنیکي، فرهنګي او نورو لاســته راوړنو څخه ګټه واخلو او دا ګټه له ژباړې څخه پرته محال ده. له بده مرغه چې کله کله یوې ژبې ته ارزښـت نه ورکول کیږي؛ وایي ټاګور خپل شـهکار اثر ( ګیتانجلی ) په بنګالي ژبه ولیکه؛ خو په پیل کې یې د ګوتو په شمېر مینه وال ځان ته را مات کړل، کله چې ټاګور دغه اثر په انګلیســي وژباړه؛ نو د نوبل نړیواله ادبي جایزه یې تر لاســه کړه او په دې توګه د نړیوالو مشــهورو لیکوالو په ډله کې شـمېرل شـو؛ له همدې ځایه ده، چې د ژباړې ارزښـت سـترګی نه شـو پټولای. انسـان یو ټولنیز موجود دی، خپل غم او ښـادي له نورو سـره شـریکول غواړي؛ کله چې څوک له یوې وینا څخه اغیزمن کېږي؛ نو هڅه کوي چې خپل دغه احساس د خپل چاپېریال له کړو سره

شریک کړي او دغه د موضوع شریکول په ژباړې سره کیدای شي او پرته له ژباړې انسان خپلې دغې هیلې ته هېڅ کله هم نه رسېږي.

پر ګڼې سربیره ژباړه ډېر زیانونه هم لري، چې د ډېرو د غلطې پوهیدنې لامل شوې ده او که د ډېرو جنګونو لامل غلطه ژباړه وبولو؛ نو مبالغه به نه وي، چې له هغو څخه د مصر او شوروي د مشرانو تر منځ تاوتریخوالی دی او دا تاوتریخوالی د ناسمې ژباړې زیږنده ده.(ستانکزی :۱۳۹۶ل- ۲۱مخ)

د بشري نړۍ پرمخ ولسونو او ملتونوته ژباړه اهمیت او ارزښت لري د هرې ټولنې ذهنې او مادي پرمختګ تر ډېره حده یو په بل پورې تړلي او سره لازم او ملزوم دي.

د یوې ټولنې ذهني پرمختګ او انکشاف له دې نه معلومېږي چې د تاریخ په اوږدوکې یې د بېلا بېلوعلومو او فنونو، فرهنګ او ثقافت په برخه کې څومره بریالیتوبونه تر لاسه کړي او د پرمختګ په کومې پوړۍ کې واقع دی.(رحیمي : ۱۳۹۶ل- ۳۵مخ)

هغه هېوادونه چې په ذهني او فکري لحاظ پاتې دي او غواړو چې په عقیدوي، فکري او علمي لحاظ د هغو هېوادونو پیروي وکړي چې په دغو ساحو کې پرمختللې دي، نو ورته لازمه ده چې لومړی د هغو ژبه زده کړی او په دې توګه د هغوی عقاید، افکار خیالات، د علومو او فنونو په بېلا بېلو برخو کې تجربې، نظریات او اختراع ګانې د خپلو خلکو لپاره پخپله ژبه را واړوي او ځان پرې پوه کړي. دغه د افکارو تبادله او یا په بله وینا د نورو د عقایدو، علومو او فنونو تجربو څخه زده کړه او د پوهې تر لاسه کول له ترجمې څخه امکان نه لري نو د همدغې اړتیا او ضرورت له مخې ترجمه یا ژباړه دبشري پوهې په پرمختیا، پراختیا او د بشر په ذهني وده او د پرمختیا کې د یادونې وړ ارزښت او اهمیت لري.

د بشري نړۍ ټول هېوادونه او ولسونه د ټولنیز ژوند په جریان کې په یوه یابله بڼه د بېلابېلو مقصدونو له پاره په لږه یا ډېره پیمانه دې ته اړکېږي، چې د بل هېواد او بلې ژبې د خلکو په فرهنګ او خیالاتو ځان خبر کړي او دې کار له پاره یواځینی غوره او اغیزمنه وسیله لومړی د نورو د ژبې زده کړه او بیا ورڅخه خپلې ژبې ته د مفاهمو او معانیو اړونه او لیږدونه ده. د ځینو ادیبوهانو په عقیده ژباړه نه تر تصنیف او پخپله ژبه کې تر لیکنې ستونزمنه او مشکله ده، دا ځکه چې لیکوال چې پخپله ژبه کې لیکنه کوي، پخپله لیکنه کې بشپړ اختیار لري، خو په ژباړه کې پر ژباړونکي لازمه ده، چې هم پر هغه ژبه چې ژباړنه یا ترجمه ورڅخه کوي ښه پوهیږي، تر څو د لیکوال مفاهیم او مطالب په مناسبه توګه خپلې ژبې ته راولیږدولای شي او هم باید پخپله ژبه ته راولیږ دولای شي او هم باید پخپله ژبه کې دومره وارد وي، چې په ځانګړي مهارت د هغو له پاره پخپله ژبه کې داسې معادل الفاظ پیداکړي، چې هم بشپړ معنا افاده کړي او هم د

لیکوال فکر او غرض ته رسیدو په لاره کې د لوستونکي لاربنود واقع شي .(هاشمي : ۱۳۷۲ل-۳۴۲مخ)

البته د يادونې وړ ده، چې په ژباړه کې وسواس هم ذوق او دقت را کموي. اړينه نه ده چې ژباړن جملې کلمه په کلمه وژباړي څکه ښايي چې جملې پيچلې او بې مفهومه کړي. ښه ژباړن هغه څوک دی، چې په پوره دقت او امانت سره د لیکوال دقیق مفهوم او موخه لوستونکو ته ورسوي او ژباړن يې کلمه په کلمه ونه اوسي او ژباړه باید دومره روانه وي، چې لوستونکی هیڅ فکرونه کړي دا اثر ژباړل شوی دی (حکیمزی :۱۳۹۶ل- ۴۶مخ)

ژباړه له يوې ژبې بلې ته د پيغام له لېږد سره سرو کار لري. ښايي هغه ژباړن ته چې په دواړو ژبو پوره لاسبری وي په ژباړه کې ډېرې روزنې ته اړتيا نه وي. خو که په اوسنۍ نړۍ کې چې ژباړې د يوه مسلک او مهارت په توګه وده وکړې د ژباړې د تیورۍ او میتود په برخه کې روزنې ته اړتيا شته. دا روزنه به د ژباړې کړنچار او پروسه وښيي او دغه راز به د ژباړې ژبو او د هغوی د جوړښت په تړاو معلومات ورکړي او په دی ټولو سربېره دژباړې د وسايلو او سندونو د کارولو او نورو لارو چارو د کارلو په برخه کې روزنه وکړي. ګڼ خلک فکر کوي، چې ژباړه د يوې ژبې د منځپانګې لپاره په بله ژبه کې د کلمو موندل او د منځپانګې لېږدوي، نو که هر څوک له دغو دوو ژبو سره اشناوي هغه ژباړن دی. خو ژباړنان دوه ډوله دي : يو عام ژباړن دي او بل مسلکي ژباړن، عام ژباړن له يوې ژبې بلې ته ځينې مشخصې منځپانګې لېږدوي؛ خو ملکي ژباړن هغه ژبپوهان دي، چې په ژبه کار کولای شي او د ژبو په اړه ژوره پوهه لري. مسلکي ژباړن ژبو او خپلو ملتونو، ټولنو او فرهنګونو ته خپل ټول مسلک ځانګړی کړی. دوی د لومړی ژبې پراخه پوهه لري او د دويمې ژبې پياوړی ليکنی مهارت دوی ته ژباړه هم هنر دی او هم ژباړه په اصل کې يوه لويه فنکاري بلل کيدای شي، په دې معنا چې د نړۍ ډيری ژبې د ژباړې له لارې بډايه شوې او د بډايه کيدو په حال کې دي. فکرونه، ايډيالونه، علوم او تجربې هغه څه دي، چې تر ډېره د ژباړې له لارې له يوه ولسه بل ولس ته رسيږي او د هغوی د ګټې اخيستنې وړ او د پرمختيا لامل کېږي. پر همدې بنسټ د علومو، تجربو او فکرونو د نړيوال کېدو اصلي وسيله هم ژباړه بلل کيدای شي او همدا د ژباړې تر ټولو ستر ارزښت دی، چې د علومو په ځينې خلک د ژباړې ارزښت ته په ټيټ نظر ګوري، حال دا چې ژباړه په خپل اصل کې تر تخليق هم لوی ارزښت او اهميت لري. ارواښاد عبدالشکور رشاد ژباړه د ملتونو تر منځ د ثقافتونو د لېږد وسيله بللې ده.(زوړ: ۱۳۵۶ل-۳۰۶مخ)

ژباړه په علمي او ادبي موضوعاتو کې ژباړن د فکر کولو لارې ته سيده کوي او د ليکلو مهارت ورښيي. تر ژباړې مخکې سړی حيران وي، چې څه وليکم؛ خو چې ژباړه شروع کړي؛ نو د

موضوعاتو دروازې ورته خلاصې شي. ځینې خلک کله یوه نیمه موضوع پیداکړي؛ خو بیا یې د لیکلو په چل نه پوهیږي؛ نو که ژباړن وي، ســملاســي پرې لاس پورې کړي، ځکه د ژبې په نزاکتونو او لیک پوه وي او لیکل یې د ګس لاس کار وي.

په پښتوکې ډیرکسان د ژباړې له لارې لیکوال شوي؛ نو دا خبره سمه نه ده، چې ژباړه د ژباړن فکري خپلواکي اخلي او له تخلیقه یې پرېباسي.(کاکړ: ۱۳۹۴ل-۱۶مخ)

په اخر کې د ژباړې د اهمیت په اړه ویلای شو، چې که ژباړه نه وای، د نورو ملتونو له پوهې مو ګټه نه شوه کولای، ځکه انسانان له هره پلوه د یو بل پوهې ته اړ دي او د ژبو د رنګارنګۍ له امله له یو بل سره مستقیمې اړیکې نه شي لرلای.

**د ژباړې معیارونه:** څرنګه چې ژباړه د یوې ټولنې د پرا ختیا او پرمختګ لوی لامل دی یا ژباړه له یوې ژبې څخه بلې ته د یوه متن د پیغام لېږدونه ده. ژباړه د یوې ژبې له علمي او ادبي پلوه بډایه ژبه ده، چې د هرې علمي او ادبي موضوع اثار په کې پراته وي او دا کار له ژباړې پرته ناشونی دی. نو یو ژباړونکی باید د اثر په ژباړلو کې له پام نه کار واخلي، تر څو ژباړه یې کره په ټول برابره او د اصلي متن ریښتینې هنداره وي.

ژباړه باید نا ارادي نه وي، ځکه نا ارادي که مورږ د بل ادب اغیز خپل ادب ته رانباسو، بنسایي د خیر پر ځای تاوان ور واړوو. نو د دې لپاره چې د ناسم اغېز نه مخنیوی وشي نو ځینود ژباړې کره معیار ټاکلی ترڅو د هغه په رڼاکې ژباړونکي ته خپله لاره څرګنده شي.

د ژباړې لپاره ځینې خاص ټاکل شوي معیارونه په لاندې ډول دي :

۱- د ګټورې موضوع غوره کول

۲- په مورنۍ ژبه برلاسي

۳- پر لومړۍ ژبه برلاســي: مهم اصــل په ژباړه کې دا دی، چې پر لومړۍ ژبه ژباړن ته دومره برلاسي په کار ده، چې قاموس ته ډېر اړ نه شي.

۴- د دواړو ژبو په توپیر پوهیدل: د بنــې ژباړې یوه لار دا ده، چې ژباړن دواړه ژبې ســره پرتله کړي چې په ژبه کې قومي احساساتو توپیر او ورته والی هم جوت کړي.

۵- د پوره امانت ساتنه: په ژباړن کې مهمه خبره د لیکوال او شاعر د خبرې سم او بشپړ را اړول دي چې امانت ورته وایي.

۶- ژباړونکی باید د هنري ذوق خاوند وي: کوم ژباړن چې د هنري ذوق خاوند وي ژباړه یې خوندوره وي ځکه، چې د هنري ذوق په مرسته ورسره د کلمو او ترکیبونو پرېمانه زېرمه وي.

ژباړن باید د اصلي متن د کلمو کارول شوي ترکیبونو په اساس مناسب انتخاب او استعمال وکړي تر څو په ژباړه کې د اصلی متن خوند پیکه نه شي او دا منظومه ژباړه کې اړینه خبره ده.

۸- ژباړن باید ټکي پر ټکي ژباړې نه ځان وژغوري، ځکه د اصلي ژبې د مفهوم او دويمې ژبې د بیان ښکلا او جوړښت ته زیان رسوي.

۹- د کلمو لپاره د نږدې او دقیق انډول موندل:

۱۰- دقیق انتقال یا دقت: ژباړن باید دې ته ډېر پام وکړي، چې د مفهوم او مانا انتقال يې بلې ژبې ته ډېر دقیق او محتاتانه وي تر څو د اصلي متن ښکلا پرځای پاتې وي او ژباړه تر سره شي.

۱۱- د شخصي کیفیتونو انتقالول: د ژباړونکی خپل شخصي کیفیت او استعداد هم د ژباړې ارزښت او مقبولیت ډېرولای شي که ژباړونکی په ځان پوره حاکمیت ولري نو ژباړه به يې د ادب په ډګر کې هرو مرو د منلو وړ وي.

د معیارونو او قوانینو په چوکاټ کې ژباړه د متن ښکلا او ارزښت ډېرولای شي او د یو شعر مانا، منځپانګه، ضروري پیغامونه، افکار، هنرونه، کیسې، غوښتنې، قوانین او معلومات په ښه او ګټوره توګه له یوې ژبې نه بلې ته اړوي.

ډېری وخت ځینې ژباړونکي یوازې د لغتونو له کتابونو څخه کار اخلي، په داسې حال کې هغه څه، چې له قاموس څخه لاس ته راځي، د لغت مانا ده، نه د جملې او عبارت مفهوم او تعبیر، له دې څخه پرته کله - کله، چې په یوه قاموس کې یوه لغت ته کومه مانا ورکول کېږي، له هغه ځانګړي مفهوم سره مطابقت نه لري، چې په بله ژبه کې يې لري، یا لږ تر لږه د هغه دقیق او معادل لغت نه دی. ښايي په جرات سره ووایو، چې ژباړه په ډېرو برخو کې له تالیف څخه ستونزمنه ده؛ ځکه په تالیف کې لیکونکی په خپله مورنۍ ژبه لیکنه کوي او د لیکنې واک د هغه په لاس کې وي؛ خو په ژباړه کې باید ژباړن د خپل کار بنسټ داسې کېږدي، چې لومړی باید د لیکوال پر تشبیهاتو، استعارو، کنایو او نورو فونونو باندې ځان پوه کړي او وروسته په ځانګړي مهارت سره د هغه معادل فونون په خپله ژبه کې پیدا او وکاروي.(سيدي : ۱۳۹۶ل - ۶۲مخ)

آزاده ژباړه: په نظم یا نثر د ژباړې یو ډول دی، چې هغې ته آزاده ژباړه وايي.

په دې ژباړه کې شخصي ذوق او سلیقه هم ځان ښکاروي او په دې ډول ژباړه کې د امانت رعایت کول اړین نه دي، په منظومه ژباړه کې باید ژباړن د مبدا او مقصد د دواړو ژبو په کنایو او استعارو او تشبیهاتو باندې پوه وي او د دې تر څنګ باید په خپله ژباړه کې د نظم آهنګ هم وساتي. د پښتو ژبې ډېری شاعرانو د نورو ملتونو د شاعرانو نظمونه په پښتو ژباړلي دي. (حکیمزی :۱۳۹۶ل-۴۸مخ)

په پښتو ژبه کې د ژباړې لپاره دوه ډوله کار باید شوی وی او باید وشي، یو ډول د ژباړې عملي کار دی، چې له نورو ژبو څخه عملي مواد پښتو ته وژباړل شي، دوهم د ژباړې علمی کار دی، چې ژباړه لکه د یو ځانګړې پوهې په توګه باید علمي وڅېړل شي، اصول او معیارونه ورته په پام

کې ونیول شي علمي څېړنه د دې لپاره ډېره مهمه او ضروري ده، تر څو د ژباړې علمي کار په اصولو برابر او مفهومي را منځته شي.

د یا دونې وړ ده ، چې منظومه ژباړه درې محدویتونه لري وزن، قافیه او داخلي موسیقي، چې بلې ژبې ته په اسانه نه ژباړل کېږي او چې ونه ژباړل شي، کیدای شي د نظم اصلي خوند خراب کړي. همدارنګه د امانت ساتلو اصل مراعات شي په لنډ ډول ویلی شو؛ لکه: څنګه چې د یوه ښه خبر لیکلو لپاره ځینې پوښتنې شته د یوې ښې ژباړې لپاره هم باید ځینو پوښتنو ته ځواب ووایو:

۱- ایا د اصلي متن مفهوم رسول شوی دی؟

۲- ایا د اصلي لیکوال لحن خوندي پاتې دی؟

۳- ایا په ژباړه کې د انډول په توګه کره او دقیقې کلمې ټاکل شوي؟

۴- ایا په ژباړه کې د لومړۍ ژبې ګرامر په پام کې نیول شوی دی؟

۵- ایا په ژباړه کې د شعر احساس، ظرافت او ښکلا په پام کې نیول شوې ده؟

ژباړونکی پر دې باندې مکلف دی، چې پورتني معیارونه په پام کې ونیسي او ژباړه وکړي.

د شعر او ادب په ډګر کې یوه ارز ښتمنه او په ټول تللې ژباړه هغه ده، چې د پورتنۍ پوښتنو ته ځواب ورکولو توان ولري. کله هم داسې پېښېږي چې د لفظ په ژباړه کې متن خپله اصلي معنی له لاسه ورکوي مثلا د منظومو اشعارو ترجمه کول په نثرسره، په دې صورت کې که څه هم د شعر معنی ترجمه کېږي خو د شعر معنی په خپله ټول هغه شعرنه دي او د شعر ترجمه چې په نثر وي هغه ته بیا شعر نه ویل کېږي له بله طرفه که ژباړن وغواړي چې شعر په شعر کړي نو په دی حالت کې مجبور دی چې ځینې تعدیلات قبول کړي خو د هغه څه د ده پخپله ژبه شعر جوړشي، نتیجه چې په لاس راځي هغه به د اصلي شعرآهنګ او وزن نه لري بلکې یو بل شعر به وي چې د ژباړن اثر بلل کېږي.

په دې صورت کې نو ګواکې چې یو نوی شعر منځته راغلی دی. لیکن باید فکر وکړو چې دوباره لیکنه ډېره مشکله ده، نسبت ونوي او تازه لیکنې ته، باید ژباړن په خپله ژبه کې د شکل د انطباق بېلابېل مسائل، د لغت معنی، روابط، آهنګ، وزن او قافیه او نور پارونکې او لمسونکې حالتونه افاده کړای شي. یعنۍ ټول هغه څه چې مولف په خپله ژبه کې حل کړي دي ژباړن باید په خپله ژبه کې پرې پوه وي او همدارنګه ژباړن مجبور دی د متن د اصل ته هم وفادار واوسي.

یعنې حق نه لري چې له خپله ځانه اختراع وکړي او نوې لاره کشف کړي، بلکه ټول هغه څه چې مولف په یو لغوي، نحوي او صوتي نظم کې په آزاده توګه انتخاب کړي دي، ژباړن مکلف دی، چې هغه مراعات او د هغه پیروي وکړي.( زوړ: ۱۳۵۶ل-۵۶مخ)

ژباړه یو خالص شعوري او کسبي عمل دی چې د تر سره کولو د پاره ورته با قاعده ریاضیت ضرورت دی. د یوې ژبې نه بلې ژبې ته ترجمه کول ګران کار دی نو، ځکه هره منظومه ژباړه د ستونزو او محدویتونو سره مخامخ وي خو د دې سره سره شعري ژباړه خپل ارزښت له لاسه نه شي ورکولای.

د ژباړې د محتوا له مخې څه ارزښت او کومې ښېګڼې او نیمګړتیاوې لري په افغانستان کې هم منثوری او هم منظومې ژباړې شوي دي ولې د ژباړو په ارزښت باندې اوس هم نه پوهیږو. موږ د ژباړې پر اهمیت او ارزښت باندې ځان پوه کړو بیا کولای شو په دواړو برخو هم په نثر او هم په نظم ژباړې وکړو.

زما د دې څېړنې اهمیت او ارزښت په دې کې دی، چې د ژباړو په مرسته وکولای شي د نورو ژبو د ویونکو کلتور، ټولنیز، سیاسي او اقتصادي مشکلات او ستونزې یو بل ته ورسول شي او د پښتو ژبې اهمیت به نور هم زیات شي، که چېرته موږ په هره برخه کې ژباړې وکړو، نو دا به په غنا کې ډېره مرسته وکړي. پښتانه باید په دې خبر وي، چې د نړۍ په کوم ځای کې د پښتو ژبې کوم خواږه لیکوالانو د پښتو ژبې لپاره خدمت کړی دی، نو هڅه شوې ده، چې د ژباړې اهمیت او ارزښت تر سرلیک لاندې موضوع لوستونکو ته د ژباړې اهمیت اور ارزښت او د ژباړې معیارونو په اړه یو څه وړاندې شي. تر څو د مینوالو تنده پرې خړوبه شي په همدې اساس د دې موضوع څېړنه اړینه برېښېده.

## پایله

هره لیکنه درې بنسټیزې برخې لري. مقدمه، اصلي موضوع او پایله که چېرته په یوه لیکنه او څېړنه کې پورتني درې عناصر او توکي موجود وي نو لیکنه یا د موضوع څېړونکی د خپلې لیکنې څخه مطلوبه ګټه او نتیجه لاس ته را وړلی شي.

پایله او یا نتیجه د لیکنې هغه برخه ده، چې د لیکوال هغه غوښتنه څرګندوي چې لپاره یې دا لیکنه تر سره شوې ده. نو په همدې اساس زه هم د خپلې لیکنې څخه دا پایله لاس ته راوړم: زما موضوع هم چې ( د ژباړې اهمیت او ارزښت ) تر سر لیک لاندې علمي مقاله ده بشپړه شو په دې علمي لیکنه کې مې د ژباړې پېژندنه، ډولونه، ژباړې ارزښت او اهمیت او په پای کې معیارونه ورته وړاندې کړي دي. که چېرته یو څوک په دواړه ژبو برلاسی نه وي نو هغه هېڅکله ښه ژباړه نه شي کولای او بله دا چې د یوه ژباړه لپاره امانتداري او خپل مسلک ته ارزښت ورکول تر ټولو مهم دي. په ټوله کې هغه ژبې د پرمختګ پوړیو ته رسېدلي دي چې لیکوالانو او ژباړونکو یې د نورو ژبو څخه کره او معیاری اثار ورته ژباړلي دي.

ځکه همدا لیکنې دي، چې د تاریخ په اوږدو کې د یوې ژبې او ادب د ژوندي پاتې کېدو او دایمي بقا سبب کېږي لیکنه او ادبي هلې ځلې نه وای نو تر موږ به د ادب ښکلی انځور او انساني تاریخ څنګه را رسیده.

دا ښکلی او د قدر وړ استعدادونه به د تاریخ په تورتم کې د تل لپاره له منځه تللي وو د انسانانو همدا ادبي لیکنې او څېړنې دي چې د یو نســـل فکر بل نســـل ته ور انتقالوي. بیا په تېره د ژباړې اهمیت او ارزښت باندې پوه شي کولای شي چې د نورو ژبو څخه موږ نوی فکر را انتقال کړو

## وړاندیزونه

۱- د هېواد په ملي کچه د ژباړې مرکزونه جوړ او مسلکي ژباړونکي دې د ژباړو کولو لپاره په دندو وګماري.

۲- د ژباړې علمي او تیوریکي لارښود کتابونه باید زیات شي.

۳- د ژباړې په مرکزونو کې باید د پښتو ژبې د ژباړې د اهمیت ارزښت په اړه روزنیز پروګرامونه جوړ شي.

۴- د ژباړې د لارې پرمختګ او پراختیا لپاره بهرنیو له ژباړنیزو پرمختیایي لارونه مثبت تقلید ماته له کتې خالي نه ښکاري.

Pamir Academic & Research Journal - مجله علمي څېړنیزه مجله - دپامیر / مجلهٔ علمی-تحقیقی پامیر

## ماخذونه


حکیمزی، حسیب الله .(۱۳۹۶ل) . لیکنه او څېړنه. کابل: مستقبل خپرندویه ټولنه.

خموش، عبدالقدیر.(۱۳۹۵ل) . د ژباړې فن او شالید. کابل: انتشارات نویسا.

رحیمي، تاج محمد.(۱۳۹۶ل) . په معاصره دوره کې د ملي ژبو یو بل ته د منظومو ژباړو ژبنۍ څېړنه، د ماسټرۍ تیزېس.

زوړ، قاهر.(۱۳۵۶ل). د ژباړې څرنګوالی او ارزښت. مقاله کابل مجله. ۱۲ګڼه

ستانکزی، رفیع الله .(۱۳۹۶ل). د ژباړې فن. ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه.

سیدي، سید نظیم.(۱۳۹۶ل). د عملي ژباړې لارښود. کابل: افغان لیکوال.

ښکلی، اجمل.(۱۳۹۶ل). د ژباړې اصول. ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه.

کاکړ، رومینا.(۱۳۹۴ل). په پښتو ژبه کې شعري ژباړه، د ماسټرۍ تیزېس.

وحیدي، اسدالله .(۱۳۹۶ل).پر پښتو نثر د ژباړې اغېزې. کابل: اکسوس کتابپلورنځی.

هاشمي، سیدمحی الدین.(۱۳۷۲ل) . د لیکوالۍ فن. میرویس خپرندویه ټولنه.